نویسنده : هاري
تاریخ 21/02/2008

# د ښاغلي جلالي مرکه

ښاغلي علي احمد جلالي په هند کي د ریډیف.کام سره یوه مصاحبه کړې ده چي مهم کي یي دلته وړاندي کېږي. البته، ټوله مرکه ډېره اوږده ده، خو دلته به کوښښ دا وي چي څو مشترک ټکي سره یو ځاي سي او مرکه څه را لنډه سي. ښاغلي جلالي په داخل او خارج کي پېژندل سوی شخص دی او دلته یي د اوږدې معرفي څخه ډډه کوم . ښاغلي جلالي په امریکا کي د اثر اورسوخ خاوند دی او د امریکایي مقاماتو سره له ډېرو وخت راهیسي پېژني او خبره یي هم وزن او اعتبار لري.

د یادولو وړ خبره دا ده چي ښاغلي جلالي د کرزي د لمړي حکومت د باکفایته او پاکو وزیرانو څخه وو. په بل عبارت، د کرزي د حکومت د هغو محدودو لایق او پاکو وزیرانو له جملي څخه وو چي د اداري فساد او حیف و میل څخه یي ځان پاک ساتلی وو، او لکه نور باکفایته خلک چي د کرزي د حکومت څخه خوا توري سول او ورو ورو له حکومت څخه ووتل، ښاغلي جلالي هم وروسته له څو کالو څخه استعفا وکړه او حکومت یي پرې ښود. خو اوس بیا په خارج او داخل کي داسي ګونګوسی دی چي ګواکي جلالي غواړي چي د افغانستان د جمهوري ریاست د انتخاباتو لپاره ځان چمتو کړي. بنا، د ښاغلي جلالي سیاسي تحلیل اونظریات خاص اهمیت لري او باید پام ورته وسي.

ښاغلي جلالي په نوي ډهلي کي د اسیایي ملکونو د امنیت په یوه سیمنار کي ګډون کړی وو او هلته یي د ریډیف.کام د مېنجنګ ایډیټور، شیلا باټ، سره مرکه کړې ده.

**پوښتنه:** د طالبانو د بیا راژوندي کېدو اساسي عوامل او فکتورونه څه دي؟

فکتورو نه ډېر دي. تاسو باید په افغانستان کي د خارجیانو د مداخلي اساسي فکتور ته پام وکړئ. خارجیان افغانستان ته د بیاودانولو او مرستي په مقصد ندي ورغلي. دوی افغانستان ته یوازي ددې لپاره ورغلي دي چي هغه تروریستي شبکه تباه کړي چي په متحده ایالاتو کي یي د سپتمبر د یوولسمي د تروریستي حملو مسولیت په غاړه لاره. خارجیانو غوښتل چي طالبان را وپرځوي. تر دې را وروسته، د بیاودانولو او دثبات د ټینګولو پروسه ډېره سوکه وه. بنا، همدي کار یوه خلا ایجاد کړه چي تدریجا او ورو ورو طالبانو او نورو جنایتکارو ډلو ډکه کړه. طالبان له قدرت څخه پسي واخیستل سول، خو مات او تباه نه سول. له بدمرغه، د سرحدونو هاخواته د هغوی د سپب د ځایونو غم هم ونه خوړل سو او نه هم د هغوی د بیا را تګ غم وخوړل سو. نو بنا، کله چي طالبانو د ثبات را وستولو په عملیه کي کمزوري احساس کړه، بېرته یي سرونه راپورته کړل. پدې تېرو شپږو کلونو کي، د افغانستان د امنیتي اورګانونو او موسساتو د جوړولو کار ډېر سوکه روان وو. بین المللي قوې هم په کافي اندازه په افغانستان کي عسکر ندي اچولي .همدا فکتورونو طالبانو ته ددې فرصت پلاس ورکړ چي بېرته را پورته سي.

**پوښتنه:** څرنګه کېدای سي چي طالبان یو ځل بیا د افغانانو په مینځ کي ملاتړ تر لاسه کړي ؟ حال دا چي د سپتمبر د یوولسمي د حملو تر مخه همدا افغانان د طالبانو دظلمونو قرباني وه؟

بلي، خو افغانان اوس هم طالبان نه خوښوي. د افغانانو لپاره طالبان د اوسني نظام لپاره یو الترنتیف ندی. مګر حقیقت دا دی چي کله خلک د حکومت د نشته والي او حضور احساس وکړي او یا کله چي خلک ددې احساس وکړي چي حکومت هغوی نسي ساتلای، بیانو خلک یو ډول بیطرفي غوره کوي. د عامه افکارو ټولي سروې ګاني ښيي چي یوازي یو محدود شمېر خلک د طالبانو فعاله پلوي کوي. د عامه افکارو اکثره سروې ګاني ښيي چي یوازې لس فیصده خلک د طالبانو لپاره جنګېږي او شل فیصده خلک دحکومت د ملاتړ په مقصد جنګېږي، خو قریب ۷۰ فیصده خلکو بیطرفي غوره کړې ده. په بل عبارت، د رواني لوبي ننداره کوي. مانا دا چي دوی طالبان نه غواړي او نه هم د حکومت دفاع کوي ځکه حکومت نه خلک ساتلای سي او نه هم د خلکو لپاره مقدماتي اجتماعي خدمات برابرولای سي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

**پوښتنه:** تاسو په افغانستان کي د هند نقش څرنګه ارزيابي کوئ؟

هند د افغانستان په بيا ودانولو کي ډېره مرسته کړي ده. هند د سړکانو په جوړولو کي، د برق دتوليد په پروژو کي، او د مکتبونو او کلينکونو په جوړولو کي مرسته کوي .هند تقريبا ۸۰۰ ميليونه ډالره لګولي دي. په ستراتيژيکي لحاظ، مسله د هند او پاکستان د اختلافاتو موضوع ده. همدا مسله پر افغانستان باندي هم اغېزه ښندلي ده .د هند او پاکستان تر مينځ بدګوماني او سوتفاهم افغانستان ته هم زيان رسولی دی .هيله دا ده چي د دواړه ملکونه افغانستان د خپلمينځي جنګونو ميدان و نه ګرځوي.

**پوښتنه:** تاسو د کورنيو چارو وزير واست، مګر بيا مو استعفا وکړه. اوس، تاسو د حکومت د نقادانو له جملي څخه ياستی. تاسو دا بدلون څرنګه بيانوئ؟

زه پر حکومت باندي انتقاد نلرم. زه پر دې رواني پروسي باندي انتقاد لرم. زه فکر کوم چي د دوهم نړيوال جنګ را پدې خوا، د افغانستان د جنګونو د ختمولو لپاره تر ټولو نورو همداشاني پروژو لږ پيسي اومنابع اختصاص سوي دي. که چيري تاسو په افغانستان کي دخارجي عسکرو شمېر ته وګورئ، هلته پر هرو زرو کسانو باندي يو نيم عسکر رسېږي. په کاسوو کي، پر هر زرو تنو باندي قريب ۲۰ عسکر رسېدل، په بازسنيا کي ۱۹ عسکره ، او په سيراليون کي ۱۰ عسکره رسېدل. افغانستان د ډېرو زياتو چلنجونو سره مخامخ دی څکه په هيواد کي ۳۰_۳۵ کاله کېړي چي جنګ روان دی. د افغانستان ټول اقتصادي زيربناوي تباه سوي دي.

بلخوا، د بين المللي ټولني محدوده توجه او د بانکي اچولو او بياودانولو نشته والی، د حکومت سره د موسساتو په جوړولو کي مرسته نه کوي. همدا سبب دی چي حکومت کمزوری دی. دا ددې مانا لري چي حکومت قصدا ځان بې سېکه غورځولی دی. بلخوا، طالبان د سرحد پر هاخوا په پاکستان کي د سبب ځايونه لري . د پاکستان قبايلي سيمي ورو ورو د افراطيت او تروريزم په مرکزونو بدل سوي دي. القاعده په همدغو قبايلي سيمو کي پاخه مرکزونه لري. همدا واقعيت خلک اندېښمن کړي دي، او همدا د ستونزو منبع ده.

**پوښتنه:** د طالبانو او القاعده تر مينځ توپير څه دی؟

د طالبانو د جنګياليو يوازي شل فصيده د عقيدي په خاطر جنګيږي. باقي پاتي هغه ناراضه اقوام دي چي يا حکومت بد چال چلند ورسره کړی دی، يا دمخدره موادو قاچاقبرانو زهيرولي دي، يا خارجي استخباراتي مامورينو کړولي دي، او يا هم د القاعدې تروريستي شبکي ازار ور رسولی دی. دغه راز، پدې جنګياليو کي بېکاره ځوانان او جنايتکاره ډلي هم ګډون لري. دا ګرده د شخصي ګټو پر اساس ولاړ ايتلاف دی. دوی د مختلفو اهدافو لپاره جنګيږي .

بلخوا، القاعده يوه نړيواله ډله ده. القاعده نه د افغانستان او نه هم د پاکستان سره کومه خاصه علاقه لري. هغوی نړيوال جنګ په مخه بيايي. طالبان په افغانستان او پاکستان کي دي او ا لقاعده هم د پاکستان په قبايلي سيموکي مرکزونه لري. په طالبانو کي داسي کسان سته چي عقيدتي او ايديولوژيک خلک ندي. هغوی ډېر خطرناکه هم ندي، او داسي لاري چاري سته چي ببرته را جلب او جذب سي. مګر هغه چي يوازي او يوازي د حکومت رانسکورول غواړي، د هغوی سره زما په ګومان د روغي جوړي چانس نسته.

**پوښتنه:** ايا اوس داسي نه ښکاري چي د شمال د ايتلاف بې وسلي کول يوه اشتباه وه، لکه چي د صدام حسين د بعث ګوند د بې وسلي کولو پروسه چي يوه خطا وه؟

هو، يوه خلا ايجاده سوه، مګر دا د شمال دايتلاف د بې وسلي کولو په خاطر نوه. د شمال ايتلاف پوځ نه لاره، بلکي د شمال ايتلاف د شريرو او بدو خلکو مجموعه وه. په ۲۰۰۲ او ۲۰۰۳ کي، هغوی يو دبل په مقابل کي سره جنګېدل. زه مجبوره سوم چي شمال ته ولاړم او سوله اعاده کړم، څکه همدغو خلکو د يو بل په مقابل کي توپونه او ټانکونه استعمالول. هغوی د نويو پوليسو او پوځ د جوړولو په غرض بې وسلي سول. بلخوا، هغوی د طالبانو سره هم جنګ ندی کړی. کله چي طالبان رانسکوره سول، د شمال ايتلاف پخپلمينځي جنګونو لګيا سول. په افغانستان کي د ملي موسساتو د جوړولو کار سوکه روان دی. که چيري تاسو پخوانی جنګي ماشين تباه نکړئ، تاسو نسئ کولای چي نوي


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

موسسات تاسیس کړئ. په دولت کي د شمال د ایتلاف داخلول کار ور نه کړ. وروسته له هغه چي د شمال ایتلاف لغو سو، ځیني یې دمخدره موادو په قاچاقبرانو باندي بدل سول، ځیني یې جنایتکاران سول ، او ځیني یې د طالبانو سره یوځای سول.

**پوښتنه:** د ایران مسله پر افغانستان باندي څه اغېزه لري؟

ایران یو گاونډی دی. هرڅه چي په ایران کي پېښ سي پر موږ تاثیر لري. ایران د افغانستان په بیاودانولو او ثبات راوستلو کي مرسته کړې ده. خو په عین زمان کي، هغوی په افغانستان کي یو بل هدف هم لري. ایران غواړي چي په افغانستان کي خپل تهاجمي حالت فعاله وساتي. مانا داچي که چیري ایران ته کوم خطر مخامخ سي، ایران هم وکړای سي چي په افغانستان کي امریکایانو ته مشکلات خلق کړي.

**پوښتنه:** ایا تاسو ددې خبري سره موافق یاست چي ناټو په افغانستان کي ناکامه کیږي؟

ځیني مثبت انکشافات سته، خو ځیني ستونزي هم سته. یو مثبت شی دا دی چي افغانان د ناټو د شتون او حضور دفاع کوي. زموږ اندېښنه داده چي ناټو به ددې تر مخه چي افغانان پر خپلو پښو باندي ودریږي له افغانستان څخه ووځي. مشکل دا دی چي په ناټو کي دننه هر ملک خپل ځانته جلا جلا اجنډا لري، او د خپلو عملیاتو لپاره جلا جلا هدایات لري. ځیني ملکونه په جنگونو کي برخه اخلي، خو ځیني نور یې نه اخلي. د ناټو ځیني هیوادونه فکر کوي چي هغوی باید یوازي د ثبات راوستلو او سولي د ساتلو کارونه پر مخ بوزي، ځیني نور فکر کوي چي ثبات او سوله به د مخالفانو د ماتولو پرته تر لاسه نسي. . واقعیت دا دی چي یاغیان یوازي او یوازي په پوځي عملیاتو نسي ماتېدلای. بل واقعیت دا دی چي د ناټو ډېری هیوادونه په افغانستان کي په زړه ور تیا جنگیږي. په عمومي ډول، پرته له ناټو څخه به په افغانستان کي یو ځل بیا انارشي او گډوډي حاکمه وي. ځکه په افغانستان کي همدا ترخه تجربه تېره سوې ده. کله چي افغانستان کمزروي وي، ډېری گاونډیان د افغانستان له کمزروی څخه گټه اخلي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de